## ځارنيز تعليق

هغه حالت چې محکمه ددې په ترځ کې چې مجرم په جزا باندې محکوموي، د يوې ټاکلې مودې لپاره يې د ځينو چارو له ترسره کولو او يا نه ترسره کولو څخه منع کوي. درى: [تعليق مراقبتى]

## ځانګه

د يوې ادارې يا مؤسسې يوه برخه يا قسمت دی چې په تشکيلاتو کې په نظر کې نيول شوی وي. درى: [شعبه]

## ځړ ځای

هغې ټاکل شوې او شخصي سيمې ته ويل کيږي چې په واښو او طبيعي بوټو باندې پوښل شوی وي او د څارويو د خوړلو لپاره منحصر او د قانون له حکمونو سره سم له هغو څخه ګټه رامنځته شي او په عامه ملکيت پورې اړه ولري. درى:[علفچر]